جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# دنوم لیکنې، رای ورکوونې او رایو شمېرنې په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې اړوند کړنلاره

دغه کړنلاره د ټاکنو دقانون په ۶۶ مه ماده کې د ورکړل شویو واکونو له په پام کې نیولوسره د نوم لیکنې،راې ورکوونې او رایو شمېرنې په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې د اړوندو چارو د تیظیم په موخه تدوین شوې ده.

## اصطلاحګانې

**لومړۍ ماده:**

په دې کړنلاره کې دغه اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

1. کمیسیون : د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون چې د افغانستان داساسي قانون د ۱۵۶ مې مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون : د ټاکنیزو شکایتونو کمسیون چې د ټاکنو د قانون د ۶۱ مې مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
3. ځانګړي میلمانه : هغه ملي او نړیوال جګپوړي دیپلوماتان ، علمي،فرهنګي او سیاسي شخصیتونه او پیژندل شوي اشخاص چې د نوم لیکنې ، راې ورکوونې او راې شمېرنې په مرکزونوکې د څارنې او یاد رسمي رپوټ برابرولو د نیت له درلودلو پرته حضور مومي .(کاندیدان ، د کاندیدانو استازې او سیاسي ګوندونه د خپل سیاسي او ټولنیز دریځ له پام کې نیولو پرته ځانګړې میلمانه نه بلل کیږي.)
4. ملګرې هیات : له ځانګړو میلمنو سره ملګرې پلاوی.
5. امنیتي ساتوونکي : د ځانګړو میلمنو او ملګرې پلاوې امنیت دتامینولو په موخه موظف افراد.

## د حضور شرایط:

**دویمه ماده:**

۱. د کمیسیون د دارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست ددغې کړنلارې له په پام کې نیولو سره د نوم لیکنې ، راې ورکوونې او رایو شمیرنې په مرکزونو کې د ځانګړو میلمنو شتون پورې اړوندې چارې تنظیموي.

۲. په دې اړه غوښتنلیکونه چې له پلان څخه لږترلږه یوه اونۍ مخکې په پام کې نیول شوي په لیکلي ډول د بهیرنیو اړیکو ریاست ته سپارل کیږي . په غوښتنلیکونو کې لږترلږه په لاندې مواردو کې معلومات شامل دي :

الف: د حضور د نیټې او وخت په اړه معلومات

ب: د ټاکنیز ځاې یا سیمې په اړه معلومات چې ځانګړې میلمه غواړې پکې حضور ومومي.

ج: د ملګري هیات شمېر او نومونه

د: د امنیتي ساتوونکو شمېر.

3. د کمیسیون د دارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست په وړاندې شوي غوښتنلیک کې د لیکل شویو معلوماتو له بشپړوالي څخه د ډاد له ترلاسه کولو وروسته موضوع د تصویب لپاره کمیسیون ته وړاندې کوي .کمیسیون وړاندې شوی غوښتنلیک تایید یا ردوي اویا د نیټې ، وخت ،ځای او یا د ملګري هیات یا د امنیتي ساتوونکو د شمیر د بدلون په اړوند تصمیم نیسي.

4. د کمیسیون د د ارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست ډیر ژر د کمیسیون په پریکړې د رخواست ورکوونکی خبروي.

۵- د کمېسون دتا بید په صورت کې، دکمېسون ددارالا نشا د باند نیو اړ یکو ریا ست د غوښتو نکي له خواد ورکړل شویو معلوما تو په پام کې نیولو سره ، په دې اړه ځا ناګړ ي کارتونه تر تیب کړي اودغوښتو نکي په واک کې دې ورکړي.

۶ –دنو م لیکنې په مرکزونودخاصو مېلمنودحضورپه بهیر کې،دټاکنوخپلوا ک کمېسیون ددارالانشا دبا ند نیو اړ یکو ریاست لړه تر لړه دکمېسیون دیوه استا زي ګډون دنوم لیکنې ، رایه ورکونې اودرایوشمېرنې په مرکزونو کې تنظیموي .

## دخاصو مېلمنو امنیتي ساتوو نکي او ملګری پلاوی:

**دریمه ماده:**

دخاصو مېلمنو امنیتي سا تونکي اوملګرى هیات یوازې دخاصو مېلمنو سره دملګرتوب په صورت کې کولی شي دنوم لیکنې،درایه ورکوو نې اوشمېرنې مرکزونوته داخل شي .

## دخا صو مېلمنو حقو ق اومسوولیتوونه :

**څلورمه ماده:**

۱ –خا ص مېلما نه له ویشل شویو کارتونوسره داړوندو کړندودونو سره په سمون کې ، درایه ورکوو نکو دنوم لیکنې مرکزونو،مخکې ټآ کل شویو رایه ورکونې اورایې شمېرنې مرکزونوته دحضور اجازه لري.
۲-خاص مېلما نه ،امنیتي ساتونکي اوملګرى پلاو ی دنوم لیکنې،رایې ورکونې اورایو شمېرونوبهیر په مرکزونو کې د حضورپه بهیرکې دکمېسیون له خوادویشل شو ي پېژ ند کارتونه تل په ښکا ره ډول له ځان سره ولر ي.
۳- ځانګړي میلمانه له ټاکنیزو کارکوونکو څخه د ټاکنیزو فعالیتونو په اړه د توضیحاتو د غوښتلو حق لري.
۴ – خا صي مېلمنې ښځې کولی شي په ښځو پورې اړ وندوځانګړو مرکزونو کې حضورولري .
۵-خاص مېلمانه به په ټا کنیزې پروسه کې هیڅ ډول لا سو هنه ونه کړ ي او دغه بهیر به نه ګډوډوي
۶-خاص مېلما نه درایې ورکوونې په کارت کې لیکل شوي معلو مات اودرا یې ورکونې سریت محترم وګڼي
۷ -خا ص مېلما نه دنوم لیکنې، رایې ورکونې یا رایو شمېر نو په مرکز کې دخپل حضور پر وخت تر هیڅ سر لیک لا ندې له یوه ګوند یا ځا نګړ ي نوماند پلوی و نه کړ ي.
۸-خا ص مېلما نه دخپل امنیتي مو ظیفینو اوملګري پلوي دچلند او عمل په اړوند مسوولیت لري.
کمېسیون دخاصو مېلمنودحضور په اړه دنوم لیکنې،رایې ورکونې اورایو شمېرنو په مرکز باندې دسرغړونې په صورت کې محدودیت لګو ي.

## انفا ذ

**پنځمه ما ده:**

دغه کړنلاره د تصویب له نیټې څخه نافذه او خپرېږي.